دافغانستان دخلکو آزادي بخښونکی سازمان(ساما)

۲۹ فبـروری ۲۰۱۸

# د۱۳۵۸کال دکب ددریمې دپرتمین پاڅون ویاړنه

## (ژبـــــاړه)

امپریالیسم دپانګوالۍ یو خوسا ښکارند او دنړۍ دوګړو څوګند خوړلی دښمن دی. دغه دنړۍ دوګړو دښمن نظام دخپلې ګټې دلاسته راوړلو په موخه (دخپل پیدایښت څخه لا تر اوسه) نړۍ دګډوډۍ، ویجاړۍ او خونړیو جګړو لوري ته لیږدولی دی. هر ډول ښکلل، په ښو نومونو ستایل او همدا ډول غولوونکو شعارونو ونشوکړای چې دهغه کرغیړنه څیره پټ کړي او دویجاړیدو برخلیک یې ټینګ او تلپاتې وځلوي. له آره دډیرو ګټو دلاسته راوړلو په تکل دکارګرانو او زیارکښانو زبیښناک، بې وزلي هیوادونه تر خپلې ولکې او ښکیل لاندې راوستلو او په زورواکۍ دنړۍ دوګړو ټکولو ته مخه کړی. دټګۍ خویونه او شیطاني ګړنې دامپریالیسم په خټه کې اخښل شوی او دهغه څخه نه بیلیدونکي دي. دهغه دهر ډول سیاستونو پایله دنړۍ دوګړو او زیارکښانو په تاوان دی. نو ځکه امپریالیسم ته«نیک خویه بودا» او«ید بیضا» ویل او په تیره بیا د«مدنیت» ډالۍ بخښونکی ګڼل دنړۍ زیارکښانو سره لویه بې غوري او ستر خیانت دی.

امپریالیسم خپل دیوې پیړۍ ویجاړوونکی ژواک په بهیر کې که څه هم دوروسته پاتې هیوادونو دپرمختګ او بشپړتیا په وړاندې خنډ ګرځیدلی، خو دزیارکښانو او دنړۍ دتوریالیو او خپلواکۍ غوښونکو اولسونو په توره او میړانه درانه ګوزارونه خوړلی دی. دغه چار، امپریالیسم دې ته اړ کړی چې پخواني مورچلونه پریږدي او نوي مورچلونه غوره کړي.

دپانګوالۍ نظام (څه د«آزاد رقابت» او څه دامپریالیسم په پړاو کې) دنړۍ لیرې ګوټونو ته دپانګونې لپاره، دمنابعو دلوټ او دښکیلاک په موخه، دنړۍ نور ولسونه یې تر تېري او ولکې لاندې ښکیل کړی دی. زمونږ ګران هیواد هم (دتیرو دوو سوو کلونو په موده کې) څو ځله دښکیلاکګرانو او امپریالیستانو تر پوځي تیري او ښکیلاک لاندې راغلی دی. خو دافغانستان توریالی او پر خپلواکۍ او آزادۍ مین ولس ـ دخپلو توریالیو، زړورو او نوم ورکو اتل زامنو په سرښندنه ـ تېري کوونکي او ښکیلاکګر یې له شرمه ډکې ماتې سره مخامخ کړي دي. نو په رښتینې توګه دغیرتمن، تورزن او پر آزادۍ مین ولس په نوم یې نړیوال شهرت موندلی دی (دنړۍ لرغونی او نږدې تیر تاریخ او داوسني پیر تاریخ، دآزادۍ غوښتنې ویاړلی، وړنګن او پرتمین مخونه دافغان ولس ته دډالۍ په توګه پریښی دی).

روسی امپریالیسم پخپل امپریالیستي زورواکه منطق سره او په تیره بیا داقتصادي، سیاسی، پوځي او کلتوري ښاخ سره زمونږ دهیواد تاریخي خوارځواکي، شړیدلی او دړنګیدلو په حال سیاسی نظام، نیم ژوانده کوږ اقتصادي حالت او بیوزلیتوب په پرتله نیولو سره په دې متاکه ډاډمنه هیله چې ګواکې کولای شي افغانستان ـ دختیځ اروپائی او دمنځني آسیا دهیوادونو په څیر ـ تر خپلې سیاسی او اقتصادي ولکی لاندې راولي؛ نوځکه زمونږ پر ګران هیواد یی تیری وکړ او تر خپل پوځي ښکیلاک لاندې ونیوه.

د۱۳۵۷ کال دغوايي مياشت اوومې نيټې دکودتا ناورين، «ختيځ لوري ته پراختيا» دسياسی الواک تر اغيز او دګرمو اوبو ستراتژيکې سيمې ته درسيدو په موخه، دروسی امپرياليسم په نغوته، دهغې دلاسپوځو(خلقيانو او پرچميانو) له خوا سر ته ورسيد. دغه کرغيړنه کودتا په هغه مهال رامنځته شو چې ـ په پرېکنده توګه او دناشونې غندنې پرته ـ دهغوی مريی توب دلمر په څير بربنډ شوی و. ددې غم لړلې پيښې په رامينځته کيدو، زمونږ پر آزادۍ مين ولس خپله خپلواکي او واکمني دسره ښامار له خوا دخوړلو په حال ليدل.

نو ځکه زمونږ زړور او ننګيالي وګړي دکوم لوري دلمسون، پارونې، خورونې او سمون څخه پرته ـ چې وروسته بيا ځينو ډلوټپلو په درواغ او سوداګريزه توګه ځانونه ددې خوځښتونو اتلان وبلل ــ پخپل سر دګوډاګي رژيم په وړاندې پاڅون وکړ او دکودتاچيانو له شرمه ډک «بريااليتوب» خوشحالي يې په وير بدل کړ. دنورستان، پکتيا او بدخشان دخلکو پاڅون يی لومړني بيلګې وې چې دکودتا په لومړي کال دهيواد نورو سيموته په ډېره بيړه وغځيد. دغه وياړلي پيښې په ښکاره جوته کړه چې: هر پخپل سر خوځښت خاماخا دپوهې نطفې پخپل ځان کې پټ ساتي.

دزړورو خپلواکۍ غوښتونکو دټوپکونو غږ، خپل اغيز دښارونو پر وګړوو ښندل او زمونږ دخلکو کرکه دمريی رژيم او دهغو دبادارانو په وړاندی دمظاهرو، اعتصابونو او منفی مقاومت په بڼه څرګند شو. او دستر مجيد په وينا زمونږ په ګران هيواد کې، ددې پرځای چې مظاهرې او اعتصابونه دوسله والو پاڅونونو پاروونکي وي، دهغو په پايله کې منځته راغلل او دا داوسنی آزادي بخښونکې جګړې يوه ځانګړنه ده.

د۱۳۵۸کال دمرغومي مياشت په شپږمه، زمونږ پرګران هيواد د«سره» پوځونو ديرغل سره جوخت، دغه اعتصابونه او مظاهرې لاپسې پراختيا وموند او په توپانونو بدل شول. زمونږ دهيواد دښکيل څخه دوه مياشتې وروسته، دکب مياشت په دريمه دکابل زړورو خلکو ـ د۱۳۵۷ کال دکب مياشت په۲۴نيټه دهرات دزړورو او سرښندونکو وګړو دپاڅون په څير- ديرغلګرو او دهغوی دګوډاګي رژيم په وړاندې پاڅون وکړ او دکرملين دواکمنانو او د«خلقيانو، پرچميانو» پښې يې ولړزول. دکابل دوګړو دشعارونو انګازې لکه:«مړه دې وي روسي يرغلګر!» ، «مړه دې وي خلقيان او پرچميان!» او « ژوندی دې وي خپلواکي او آزادي!» دروسانو لاسپوڅي يې وډارول، نو له دې امله دروسانو خروړي سپي ـ ددرانه وسلو په کارولو سره ـ زمونږ دخلکو دغه پر ځای پاڅون وځپل. خود دې ځناورو کړنه ونشو کړای چې زمونږ دراپاريدلو خلکو په هود کې کوم بدلون راولي او ددښمن سره دهغوی ژوره کرکه له مينځه يوسي. ددې پر ځای ښکيلاکګر يې د وير وسله وال پاڅون داور په لمبو کې راګير کړ او دهغوی ګوډاګی رژيم يې دړنګيدو په درشل کې ودرول. همدا ډول دغه پرتمين او وياړلی پاڅون يو ځل بيا جوته کړه چې: که چيرې يو بيوزلی، بې ځواکه خو پر خپلواکۍ مين ولس که وغواړي، نو په ټينګ هوډ سره کولای شي چې دنړۍ ستر ځواکمنان په ګونډو راولي.

زمونږ پتمن او تورزن ولس دآزادۍ او خپلواکۍ دلاسته راوړلو په لار کې دقربانۍ په ورکولو او دخپلو وينو په ښندلو ـ دسيمه ايزو زوړپالو دلاسوهنو او دځايي مرتجعينو دبوالعجبو پرشاتمبوونکو هلوځلو سره سره ـ وکولای شول چې دافغانستان د دنګو غرونو په لمنو کې دروس زبرځواک په ګونډو راولي او دشرمېدلې ماتې سره مخامخ کړي.

دروسی ضد آزادي بخښونکې جګړې په بهير کې دامريکې امپرياليسم دخپل رقيب دماتې په موخه او پر افغانستان باندی دتلپاتې سياسی او اقتصادی واکمنۍ لپاره او دسيمه ايز ستراتژيکي پلان دپلي کولو په موخه، دبې کچو پانګو په شيندلو سره، تر خپل ښکيل ګوډاګي داړه ماران پياوړي کړل. او ددې پر ځای چې دروسي امپرياليسم دماتې څخه ورم واخلي، په ۲۰۰۱کال کې زمونږ ګران هيواد ـ دناوړو پلمو په وړاندې کولو ـ تر بربنډ تيری او ښکيل لاندی راوست. او دخپلو موخو دپټولو لپاره د«بن کنفرانس» دجوړولو سره، هغه هيواد پلورونکي او دکرکې وړ داړه ماران يی زمونږ دويرژلو وګړو پر پختورګو سواره کړل، چې دهيواد ملي ګټې او واکمني يې ډير پخوا يرغلګر امپرياليسم ته پلورلي ول.

دا(۱۷) کلونه دي چې دښکیلاکګر امپریالیسم له شامته، افغانستان په سور تنور او دوینو په حمام بدل شوی دی. زمونږ دبې وزلو، په نس وږیو او بې ګناه ولس وګړو ټولیزه وژنه پر له پسې دوام لري. خو په پریکنده توګه ویلی شو، په هغه ډول چې توریالي افغانان دانګریز او روس ښکیلاکګر او امپریالیستانو کرغیړن مخونه په تورو خاورو ولړل، دامریکې امپریالیسم به هم ـ دهغوی په پرتله ـ دډیر بد برخلیک سره مخامخ کړي.

په دې څلورو لسیزو کې دافغانستان په ستونزو کې دامریکا امپریالیسم له غرضه ډکو لاسوهنو له امله، زمونږ ولسی آزادي بخښونکی خوځښت دخپلې اصلي موخې څخه دانحراف په لور تمبول شوی دی. یانکي امپریالیسم په ځان پورې تړلي او تاریخ ځپلي ځواکونو په پیاوړي کولو سره، دجنګ په اوږدولو او دهغه څخه زیږنده ناورینونو دډیریدلو لامل ګرځیدلی. دسپینې ماڼۍ او پنتاګون پخواني او اوسني واکمنان دجګړه مارو ځواکونو په وړاندی دخپلې ماتې دمنلو او دښکیلاک ګری پلانونو دشنډیدنې سره سره دخپلې «نوی ستراتژیک» پلان په اعلانولو دلیونیو په څیر دجګړې دلاپسې زیاتیدو په تکل کې دي. دغه چار به زمونږ دبې ګناه خلکو دمصیبتونو کچه به ډیره لوړه کړي. په افغانستان کې دامریکا دبیا تمیدو اعلان او داوږدې جګړې غوره کول دهغې دبالقوې رقیبانو(روسیه او چین) دانديښنې لامل ګرځیدلی او هغوی نویو فعالیتونو ته اړ کړې دي. اوس دافغانستان دستونزو په هکله په سیمه کې ددې دواړو سترو هیوادونو په ټیکاونه او سیاستونو کې ستر بدلون لیدل کیږي. دغه بدلونونه نړۍ دیوې نوې «سړې جګړې» په درشل کې درولی دی. دسترو ځواکونو تر بګني، دسیمې اوګاوندیو مرتجع هیوادونو له غرضه ډکو سیاستونو په راخپلولو به دافغانستان حالاتو دلاپسې کړکیچن کیدو لامل به وګرځي. او دآزادي بخښونکی خوځښت موخې به له پخوا نه ډیر دپردو تر شا پټ کړي. ددې انځور په پام کې نیولو سره دولسي او انقلابی ځواکونو دنده ده تر څو په هر اړخیزه رڼا اچونه دافغانستان دډول ډول دښمنانو دسیسې او غولونې بربنډ او شنډ کړي.

دخلکو آزادي بخښونکی سازمان(ساما) دخپل بنسټ ایښودلو سره جوخت داوسني پیر دنوي مترقي اندیښنو په رڼا کې دروسي او امریکې ضد ولسي آزادی بخښونکې جګړه کې خپله جدي پاملرنه پر« مقاومت از محیط به مرکز» باندې راښندلی دی. او په هر اړخیز رڼا اچولو سره دټولو خواوو نیمه خوا هلې ځلې چې دآزادي بخښونکی ټینګار موخو دپټولو په تکل کې دي بربنډ کړی دی. اوس چې دآزادی بخښونکې جګړې په ترخ کې زمونږ بیوزلو او غم ځپلو وګړو ته دښکیلو ګوندونو او ډلوټپلو او په تیره بیا دفئودالۍ او دلال پانګه وال(څه روسي او څه امریکائي) دنمایندګانو سیاستونو اصلي بڼه څرګند شوی او د راتپل شوې تنګسې څخه دخلاصون په لټون دي، (ساما) خپل تاریخي استازیتوبګڼي چې دزوړپالو دولکې څخه دولسی آزادي بخښونکې جګړې دخلاصون لیاره خلکو ته په نښه کړي او رښتینې لیارې ته ددې خوځښت لیږدول خپله سیاسي دنده ګڼي.

مړه دې وي ټول ښکیلاکګر!

تلپاتې دې وي دکب دریمې دزړورتیا ویاړ!

یا مرګ یا آزادي!

دافغانستان دخلکو آزادي بخښونکی سازمان(ساما)

د۱۳۹۶ کال دکب دریمه